بسم الله الرحمن الرحیم

# د غوندې خبرې

هغه ګران بیه میراث چې اهلبیتو(ع) له ځانه وروسته پریخی دی او د هغوي لارویانو هغه له ورک شونې څخه ساتلی دی د مکتب یوه کامله بیلګه ده چې د اسلامي علومو بیلا بیلې څانګې لري. او د علم ډیر تږي یې له دې چینې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان یې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبیتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بیلا بیلو سوالونو، شبهو فکري بې لاریو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پیړیو کې یې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې غوندې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري یې اختسې ده ـ د رسالت له حریمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندی شوی ده. هغه حقیقتونه چې د بیلا بیلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو همیشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړی دی. د اهلبیتو نړیواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبیت (ع) د ریښتني لارویانو او شاګردانو څخه ګڼي، هغه شاګردان چې همیشه دې تهمتونو لرې کولو ته تیار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانی د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتي شي.

هغه تجربې چې په دې ښه د اهلبیتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخیره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاویږي. ځکه چې دا تجربې او دلیلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځایه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دلیلونه ومني او قبول یې کړي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې غونډې دا کوښښ کړی دی چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، لیکوالانو او د هغه کسانو چې د

اهلبیتو(ع) مذهب یې قبول کړی دی، کتابونه چاپ کړي او د حقیقت د چینې تږو ته یې وړاندې کړي.

دې غونډې د شیعه وو د تېر شویو عالمانو لیکل شوې کتابونه او تحقیقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقیقت د لټوونکو لپاره د یو خوږې چینې په شان وي. او په دې زمانه کې چې عقل په تکامل او پوره کیدو دی، د اهلبیتو(ع) هغې حقیقتونو ته چې د نړیوالو لپاره یې د تحفی غوندې پریخي دي غوږ کیدي.

هیله لرو چې د دې غونډې د کتابونو لوستوونکي به مونږ له خپلو قیمتي وړاندیزونو او ښو نیوکو څخه خبر کړي.

همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه کوونکو ته بلنه ورکوو چې د ګران پیغمبر(ص) دین په خپروني کې له مونږ سره مرسته وکړي.

له خدایه دا سوال کوو چې زمونږ دا وړکې غوندې کوښښ په خپلې درګاه کې قبول کړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشریف) د سوري لاندې نور توفیق هم راکړي.

دې ځاي کې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحیم دراني څخه مننه وکړو چې د دې کتاب په ژباړې کې یې له مونږ سره مرسته وکړه او همدارنګ له هغې کسانو چې د دې کتاب په پوره کیدو کې یې له مونږ سره مرسته کړې، په بیله توګه هغه کسان چې د ترجمې په اداره کې کوښښ کوي.

د اهلبیتو(ع) د نړیوالې غونډې
فرهنګي معاونت

# لنډه پېژندګلو

| | |
|---|---|
| نوم: | حسن |
| لقب: | عسکري |
| د پلار نوم: | علي |
| د مور نوم: | حدیثه |
| زوکړه: | د ربیع الثاني اتمه نیټه |
| امامت: | شپږ کاله |
| عمر: | اتۀ ویشت کاله |
| شهادت: | د ربیع الاول اتمه نیټه د هجرت 260 کال |
| قاتل: | معتمد |
| زیارت: | سامرا (عراق) |
| اولاد: | یو زوي |

# حضرت امام حسن عسکري علیه السلام

هر یو معصوم امام د خپل ځاي ناستي په معرفۍ کښې یوازې په عامو روایتونو چې د امامانو شمېر پکښې دولس ښودلی شوی، بسنه نۀ کوله، بلکې د هر ډول شک د لرې کولو او تېنګار لپاره به یې په څرګنده توګه د راتلونکي امام نوم اخستلو او خلقو ته به یې ورپېژندلو. د امام حسن عسکري علیه السلام په حقله هم ډېر روایتونه نقل شوي چې ځنې یې دا دي:

1: ابو هاشم جعفري چې له لویو او باوري راویانو او د امامانو له خاصو یارانو څخه دی وایي د امام هادي علیه

السلام خدمت ته ورغلم دوي وويل: زما ځاي ناستې زما ځوې حسن دی.

2: صقر بن ابي دلف وايي: له امام هادي عليه السلام مې واوريدل چې وې فرمايل: په تحقيق سره تر ما ورسته امام زما ځوې حسن دی. او تر هغهٔ وروسته د هغهٔ ځوې امام مهدي قائم عليه السلام او هماغه به زمکه له انصافه ډکوي.[1]

3: نوفلي وايي: له امام هادي عليه السلام سره د هغوي د کور په غولي کښې ناست ؤم، دهغوي ځوې محمد زمونږ په مخکښې تير شو، ما له امام هادي عليه السلام پوښتنه وکړه چې تر تاسو وروسته به امام دی وي؟ امام هادي عليه السلام وفرمايل: نه. ترما ورسته به امام حسن وي.[2]

4: يحي بن يسار وايي: امام هادي عليه السلام تر شهادته ثلور مياشتې مخکښې خپل ځوي امام حسن عسکري عليه السلام ته وصيت وکړ او د هغوي امامت ته يې اشاره وکړه او زهٔ او ځينې نور کسان ددې پيښې ګواهان وو.

1 . کمال الدين تاليف شيخ صدوق ص 383

2 . ارشاد مفيد ص 315

# د امام حسن عسکري (ع) په وخت حکمران

د امام حسن عسکري علیه السلام د امامت د لنډې دورې یعني یوازي په شپږو کلونو کښې د دریو خلیفه ګانو، معتز، مهتدي او معتمد حکومتونه وو. معتز د خپل ترۀ د ځوي مستعین په ځاي راغلی ؤ، امام هادي علیه السلام د معتز په حکومت کښې شهید کړی شو. او ددې ظالم خلیفه په وخت کښې ډیر علویان ووژل شول. معتز یو ځل خپل ورور موید بندي کړ او وې ویل چې هغه دې په امسا ځلویښت ګوزاره ووهل شي تر دې چې هغه خپل ځان له ولي عهدۍ خلع او خلاص کړ او له بنده خوشی شو. خو معتز یو ځل بیا ونیوۀ. او چې کله یې واوریدل چې ځینې ترکان غواړي موید خوشی کړي نو د هغۀ د وژنې حکم یې ورکړ. موید یې په یو زهرژن ځادر کښې وتړلو او ځادر یې پرې له دواړو خواؤ رابند کړ او په دې طریقه یې له منځه یوړو. بیا یې فقیهان او قاضیان راوغوښتل او وې ښودله ورته چې موید په وهلو ټکولو نۀ دي مړ بلکې په خپل مرګ مړ دی.[1]

د معتز په حکومت کښې د علویانو، د جعفر طیار او عقیل بن ابیطالب د کورنۍ اویا تنه چې په حجاز کښې یې

1. تتمة المنتهی ص 252

پاڅون کړی ؤ، اسیران کړی شول او سامرا ته یې راوستل[1].
د دغه خلیفه په وخت کښې د امام حسن عسکري علیه السلام په ملګرو ډیر سخت دباؤ ؤ، ځینو ملګرو امام حسن عسکري علیه السلام ته په یو لیک کښې د روانو حالاتو شکایات وکړ. امام ورته وویل: ډیر زر به انشاالله خلاص شو. او همداسې وشوه دعباسي دربار ترک سپایان چې معتز یې د ځان لپاره ګټه ور نهٔ ګڼلو د هغه په خلاف راپا څیدل او هغه یې څنګ ته کیدو ته مجبوره کړ بیا یې معتز په یوي تاخانې کښې بند کړ، تر دې چې هم هلته مړ شو. له معتزه ورسته مهتدي خلیفه شو دې هم یو ظالم اومنافق سړی ؤ.خو په ظاهره ډیر عبادت کوونکی ؤ، خپل حرم یې له سندرغاړو ښځو ډک کړی ؤ او په نورو غلطو کارونو یې پابندي لګولې وه. امام حسن عسکري علیه السلام یې د یوې مودې لپاره بندي کړ او د دوي د وژلو فیصله یې وکړه خو اجل ورته صبر ونهٔ کړو او مهلت یې ورنهٔ کړو او خدایې پاک هلاک کړ. د مهتدي په خلافت کښې ځینو علویانو پاڅون وکړ او بند ته واچول شول چې هم هلته مړهٔ شول.[2]

احمد بن محمد وایي کله چې مهتدي په مرګ ژوبلې لګیا ؤ، امام حسن عسکري علیه السلام ته مې ولیکل: دهغه

---

1 . مروج الذهب ج 4 ص 91

2 . مروج الذهب ج4 ص 91-95، تتمة المنتهی ص 254

خدايې شكر چې دې يې له تا سو وغړولو، ما اوريدلي وو چې مهتدي تاسو ګواښلي يئ او ويلي يې دي چې په خدايې قسم د محمد (ص) له كورنۍ به زمكه پاكه كړم.

امام په ځواب كښې په خپل مبارك ليک سره وليكل: ددهٔ عمر څومره كم دي، پنځهٔ ورځې پس به په ډير ذلت او خوارۍ سره ووژل شي. او لكه څنګه چې امام فرمايلي وو هماغه شان وشوه ځكه چې مهتدي هم د تركو سپايانو په بلوا كښې مړ شو او معتمد د هغهٔ ځايې ونيولو.[1]

معتمد هم د خپلو پلار نيكانو په شان په شرابو، كبابو او ظلم زياتي راخته شو. او په لهو و لعب او عيش عشرت دومره ډوب شو چې ورو ورو د هغهٔ ورور "موفق" د هغهٔ د سلطنت په چارو واكمن شو، ټولې چارې يې تر لاسه كړې او دى تش په نامه خليفه ؤ. د موفق له مړينې وروسته د هغهٔ ځوې معتضد د خپل ترهٔ يعني معتمد د چارو واكمن شو او غرض دا چې معتمد د هجرت په 279 كال مړ شو او معتضد رسما خليفه شو.[2]

د معتمد په حكومت كښې امام حسن عسكري عليه السلام شهيد كړې شو او ځيني علويان هم ووژل شو. په دغو كښې ځيني كسان په ډير ظلم او بد ډول سره وژل كيدل. او له

1 . تتمة المنتهى ص 254-258،

2 . تتمة المنتهى ص 268 مروج الذهب ج 4 ص140_142

مړيني ورسته به يې ترې د بدن ځينې غړي پرې کول.[1] ځينو مورخينو ليکلي دي چې د معتمد د حکومت په دوران کښې جنګ او نښتې زياتې وې، تر دې چې قابو پنځۀ لکه تنه ووژل شول. دا لنډ غوندې حالات او د امام د ژوند نورې قيصې او تاريخ دا څرګندوي چې امام حسن عسکري عليه السلام په يو سخت او له ساډوبې په حالت کښې ژوند کوۀ. او حکومتونو تل په امام سختې پابندۍ لګولې وې او ډير ځله يې بندي کړې ۀ. او په هغه وختونو کښې هم چې امام په بند کښې نۀ ۀ له هغوي سره کتل او د دوستانو ورتلل بند ۀ او له امام سره رابطه اسانه نۀ وه.[2]

## د امام شخصيت او اخلاقي ځانګړ تياوې

د امام معنوي کمالات او اخلاقي لوړتياوې ددې سبب شوې وې چې نۀ يوازې دوستان بلکې دښمنان هم د هغوي په عظمت، لوړتيا او بزرګۍ داده وۀ. حسن بن محمد اشعري، محمد بن يحي او داسې نورو کسانو روايت کړی دی چې احمد بن عبدالله بن خاقان د قم د زمکو اومالیو چاره په غاړه لرله. يوه ورځ د هغۀ په محفل کښې د علويانو او د هغوي د

1 . مقاتل الطالبين ص 685_690

2 . مروج الذهب ج 2 ص 120

عقیدو خبره شوه. احمد چې پخپله سخت ناصبي[1] او د اهمبیتو سر سخته دښمن ؤ، وویل: ما په سامرا کښې په علویانو کښې په کړچار، کردار، وقار، پاکۍ، شرافت، لوړتیا او عظمت کښې د بنی هاشمو په ټوله کورنۍ کښې د امام حسن عسکري علیه السلام په شان څوک نۀ دي لیدلي او نۀ یې پیژنم. د هغۀ کورنۍ هغۀ له خپلو ټولو مشرانو او لویانو زیات محترم ګڼلو او عزت یې ورکوؤ. او د سپایانو په مشرانو وزیرانو او عامو خلقو هم همدومره ګران ؤ.

ماته یاد دي چې یوه ورځ په بانان کښې له پلار سره ناست ؤم، خبر راته راوړل شو چې ابو محمد ابن الرضا امام حسن عسکري علیه السلام راغلی دی، پلار مې په لوړ اواز وویل: پریږدئ چې راننوځي، زۀ په دې خبره ډیر حیران شوم چې د امام نوم یې په احترام او کنیت سره واخستو ځکه چې زما پلار به بې له خلیفه یا ولي عهد یا هغه کس چې خلیفه یې حکم ورکړي ؤ، هیڅوک په کنیت سره نۀ یادولو او نوم به یې ورته اخستو، خیر، ومې لیدل چې یو غنم رنګه، د ښې ونې خاوند، مسکی، نیک اندام، ځوان او رعب لرونکي سړی راننوت. کله چې مې پلار هغه ولید نو د عزت لپاره یې پاڅید او څو قدمه مخکښې ورغی. زما نۀ یادیږي چې پلار مې په

1 . ناصبي یعنې هغه سړې چې له اهلبیتو امامانو سره دښمني او مخالفت لري.

ټولو بني هاشمو یا خلفاوو کښې د چا دومره عزت کړې وي. له هغوي یې لاسونه تاؤ کړل او په مخ یې ښکل کړ، د هغوي لاس یې ونیوؤ او په خپل د مانځه په ځای یې کښینولو، پخپله د هغوي مخې ته کښیناست، خبرې یې ورسره پیل کړې. په خبرو کښې یې ورته ویل:"له تا ځار شم" زۀ په دې خبره حق حیرانه ؤم. په دې کښې پیره داران راغلل او وې ویل چې "موفق عباسي" راغلی دی. عام رسم دا ؤ چې کله به موفق راتللو نو لومړی به پیره داران راتلل بیا به سپایان او د کور له ورۀ څخه زما د پلار تر کوټې پورې به په صفونو کښې ودریدل او بیا به په ډیر شان او برم سره موفق راتللو. خو دا ځل مې پلار ابو محمد ته متوجې ؤ او خبرې یې ورسره کولې، تر دې چې د موفق خاص مریان او پیره داران یې ولیدل. په دې وخت یې امام ته وویل که ستا سو خوښه وي نو اوس لاړ شئ. او خپلو پیره دارانو ته یې وویل چې دوي په پټه بوځي چې موفق یې ونۀویني. امام پاڅید، غاړه غړې شول. او بیا امام تشریف یوړو.

ما پیره دارانو ته وویل: واه! دا څوک ؤ چې تاسو ورته د نوم په ځای کنیت واخستو او پلار مې یې دومره عزت وکړ؟ دوي ویل چې دې یو علوي دی. چې نوم یې حسن بن علی علیه السلام دی. او په ابن الرضا مشهور دی. زما تجسس او حیرانتیا نوره هم زیاته شوه او ټوله ورځ اندیښمن ؤم تر دې چې شپه شوه. زما د پلار عادت ؤچې د ماسخوتن تر مانځه

ورسته به کښیناستۀ او په هغو چارو او راپورونو چې خلیفه ته به یې ورکول غور کوۀ. کله چې مې پلار مونځ وکړو او کېښناست زۀ ورته ورغلم او ورسره کښیناستم وې پوښتل: احمد! له ما سره دې څۀ کار ۀ؟ ومې ویل: هو، که اجازت وي یوه پوښتنه لرم؟ وې ویل: وو ایه. ومې ویل دا سړي چې سهار راغلی ۀ، څوک ۀ چې تا یې دومره عزت وکړ او ځان او مور او پلار دې ترې ځار کړل. وې ویل: دي امام حسن عسکري علیه السلام ۀ چې په ابن الرضا مشهور دي. بیا لږ غلی شو او زۀ هم غلی شوم، څو شیبې وروسته یې وویل ځویه، که خلافت د بني عباسو خلفاوو له لاسه اوځي نو په بني هاشمو کښې تر دۀ زیات هیڅوک ددې وړتیا او لیاقت نۀ لري او دا ځکه چې څوک په فضیلت، لوړتیا، پاکۍ، حیا، عبادت او نیکو اخلاقو کښې دۀ ته نۀ رسي کۀ ددۀ پلار دې لیدلی وی نو ډیر لویې او لوړ سړی به دې لیدلی ۀ.

په دغو خبرو مې اندیښنه او په پلار غصه او ورځنې کرکه ډیره زیاته شوه. او تر دې وروسته مې دا کار جوړ شو چې د امام په حقله به مې تحقیق کوۀ او په دې حقله په غور او پلټنې لګیا ۀم. په بني هاشمو د فوځ په کماندانانو، قاضیانو، فقیهانو او د خلقو په هرې پرګنې کښې مې چې له چا هم د هغوي په حقله پوښتنه وکړه د هغوي یې ډیر تعریف وکړ او د هغوي لویې مقام یې بیان کړ او هغه یې په خپلو ټولو مشرانو او د بني هاشمو په لویانو لوړ وبالۀ، او په دا

ډول د امام مقام او حيثيت زما په نزد هم ډير زيات شو ځکه چې ټولو ستايۀ او په نيکه يې يادوۀ.[1]

## د امام عليه السلام تقوى

کامل مدني چې د يوې پوښتنې لپاره امام ته ورغلي ۇ، وايي: کله چې امام ته ورغلم نو ومې ليدل چې سپينې او نرمې جامې يې اغوستي دي، له ځان سره مې وويل: نۀ پوهيږم چې ولې د خدايې حجت "امام" پخپله داسې نرمې او ښکلې جامې اغوندي او مونږ ته وايي چې له خپلو ورونړو سره ورورولي کوي او داسې جامې مۀ اغوندئ.

امام مسکې شو او لستوڼي يې هسک کړل ومې ليدل چې له دغو جامو لاندې يې د ټاټ سختې او ځيږې جامې اغوستې وې بيا يې ماته وويل اي کامله: "هذا للهِ و هذا لکم" دا د ټاټ سختې جامې د خدايې لپاره دي او دا نرمې جامې چې ددې لپاسه دي، ستا سو لپاره دي.[2]

1 . ارشاد مفيد ص318

2 . بحار ج 5 ص 253

# امام علیه السلام ته د دوو حاجتمنو راتلل

محمد بن علي بن ابراهیم موسي بن جعفر وايي: زمونږ مالي حالت ډیر خراب شو او فقیران شو. پلار مې وویل راځه چې دواړه دغه کس (امام حسن عسکري علیه السلام) ته ورشو ځکه چې ددۀ سخاوت او بخښنه ډیره مشهوره ده. ومې ویل: پیژنې یې؟ وې ویل: نه، دی مې نۀ دی لیدلی.

دواړه روان شو او په لاره مې پلار وویل چې مونږ دومره حاجت لرو چې که 500 درهمه راکړي نو 200 درهمه به د جامو شي، 200 د پور، او په سلو نورو به نوره کډه کوډه واخلو. ما له ځان سره وویل کاش که ما ته هم 300 درهمه راکړي نو په سلو به کټ واخلم، سل به د خرچې شي او په سلو نورو به جامې واخلم او بلاد جبل ته به پرې لاړ شم. کله چې د امام کور ته ورسیدو نو د امام خدمت کونکی راووت او وې ویل چې علي ابن ابراهیم او د هغۀ ځوې محمد دې راننوځي. چې ننوتلو او سلام مو وکړو نو زما پلار ته یې وفرمایل: ای علي! څۀ چل شوی ؤ چې تراوسه ما ته نۀ راتلې؟ پلار مې ویل: شرمیدم چې په دې حالت کښې له تا سره ووینم. کله چې مونږ راووتلو، د امام مریې مونږ ته راغی. زما پلار ته یې د پیسو یوه کڅوړه ورکړه او وې ویل چې دا پنځۀ سوه درهمه دي دوه سوه د جامو، دوه سوه د پور خلاصولو او سل نورې د خرچې لپاره. بیا یې ما ته یوه کڅوړه راکړه او وې ویل چې دا درې

سوه درهمه دي. سل د کتې اخستلو لپاره، سل د جامو خرچې لپاره او سل نورې هم سفر لپاره خو "بلاد جبل" ته مۀ ځه بلکې د عراق "سورا" سیمې ته لاړ شه.[1]

## د امام علیه السلام عبادت

امام حسن عسکري علیه السلام هم خپلو پلار نیکونو په شان عبادت ته په پاملرنه کښې بیلګه ؤ. د مانځۀ په وخت به یې له هر کاره لاس واخستو او هیڅ څیز به یې په مانځۀ نۀ مخکښې کولو. ابو هاشم جعفري وایي: د امام حسن عسکري علیه السلام خدمت ته حاضر شوم. امام په لیکلو بوخت ؤ کله چې د مانځۀ وخت راورسید و لیکل یې پریښودل او مانځۀ ته ودرید.

د امام د مانځۀ کیفیت او څرنګوالي به خلقو ته خدایې وریادولو او کله کله به چې بې لارې کسانو د هغوي مونځ ولید نو بشپړ به بدل شو او سمې لارې ته به راغلل، کله چې امام د صالح بن وصیف په بند کښې ؤ، څنو عباسیانو د جیل له چارواکو وغوښتل چې په امام وګمارول خو دواړه د امام د ښو اخلاقو او ښو کړنو په وجه بدل شول او په عبادت او مانځۀ کښې لویې مرحلې ته ورسیدل. د جیل مشر دواړه

---

1. اصول کافي ج 1 ص 506

راوغوښتل او ورته یې وویل افسوس دې وي په تاسو، ما د ځۀ لپاره ګمارلي وئ او تاسو څۀ وکړل، ددې کس په باره کښې څۀ وایئ؟ هغوي وویل مونږ ددۀ په حقله څۀ ووایو چې د ورځې روژې نیسي او ټوله شپه په عبادت روڼوي او له عبادته پرته له چا سره خبرې نۀ کوي او نۀ په نورو کارونو مشغولیږي او کله چې مونږ ته وګوري نو مونږ په لړزا او درېدیدا شو او بې کنټروله شو.[1]

## حقیقت ته د مسلمانانو رابلل

څنو اهل سنتو علماوو منجمله "ابن صباغ مالکي" له "ابو هاشم جعفري" روایت کړي دي چې"... په سامرا کښې سخته وچ کالي او قحط راغی د وخت خلیفه معتمد حکم وکړ چې خلق دې د استسقا (د باران غوښتنې) مونځ وکړي خلقو پرله پسې درې ورځې مونځ او دعا وکړه خو باران ونۀ شو. په څلورمه ورځ د عیسائي بشپانو او پادریانو مشر"جاثلیق" صحرا ته لاړۀ. راهب به چې کله لاس اسمان ته هسک کړ نوښه ډېر او د غټو څاڅکو باران به وشو. سبا له بیا هم جاثلیق همدا کار وکړ او دومره باران وشو چې خلق خړوب شول او باران ته اړتیا پاتې نۀ شوه. دې خبرې مسلمانان ډېر حیران کړل د

1 . ارشاد مفید ص324

مسلمانانو په زړه کښې یې په اسلام شک رامنځ ته کړ او ځینو مسلمانانو عیسائي توب ته ګروهنه پیدا کړه. دې خبرې خلیفه ډیر اندیښمن کړ او له امام حسن عسکري علیه السلام یې مرسته وغوښته. امام پسې لاړل او امام یې له بنده راووستو. خلیفه امام ته وویل د نیکهٔ امت دې وساته، ګني لاړو بې لارې شو. امام وفرمایل: جاثلیق او راهبانو ته ووایئ چې سبا ټول بیا صحرا ته لاړ شي. خلیفه وویل خلق باران نهٔ غواړي ځکه چې له ورښته ماړهٔ شوي دي نو صحرا او دښتې ته تلل ګټه نهٔ لري. امام ورته وویل: ددې لپاره چې انشاء الله د خلقو له زړونو شک وباسم. صحرا ته تلل ضروري دي. خلیفه حکم ورکړو او د پادریانو مشر سره له خپلو راهبانو سبا صحرا ته لاړل. امام حسن عسکري علیه السلام هم له ډیرو زیاتو کسانو سره صحرا ته لاړ.

کله چې ټول راغونډ شول نو راهبانو د دعا لپاره اسمان ته لاسونه هسک کړل. اسمان ورځ شو او وورید. امام وفرمایل: د پلانکي راهب لاس ونیسئ، خلاص یې کړئ او په لاس کښې یې چې څهٔ وي هغه ترې واخلئ. د هغه راهب په لاس کښې د انسان یو تور هډوکی پیدا شو. امام هغه هډوکی واخستو په یوې صفا لتې کښې یې ونغښت او له راهبانو یې وغوښتل چې اوس دعا وکړئ. راهبانو دا ځل بیا اسمان ته لاسونه پورته کړل خو شته وریځې هم لاړې او نمر راښکاره شو. خلق حیرانه شول، خلیفه له امامه وپوښتل چې په دې هډوکي

کښې څۀ چل دی؟ امام ورته وفرمایل چې دا د خدایې د یو پیغمبر هډوکی دی. چې د یو پیغمبر له قبره راخستل شوی دی او کله چې هم دا اسمان ته ښکاره کړې شي نو باران کیږي. ټول مطمئن شول امام یې وستایۀ او هډوکی یې وزمایۀ او وې لیدل چې حقیقت همداسې دی.[1]

## عراقي فلسفي ته لارښوونه

د عراق یو ماده پرست فلسفي د یو کتاب په لیکنه پیل وکړ په خپل خیال کښې یې وغوښتل چې په دغه کتاب کښې ثابته کړي چې په قران کښې تناقضونه او تضادونه موجود دي. ددې کار په خاطر له خلقو څنډې ته شو او د کور په یو ګټ کښې په دې کتاب لګیا شو.

یوه ورځ ددۀ یو شاګرد چې د امام حسن عسکري علیه السلام خدمت ته حاضر شوی ؤ امام ورته وویل: په تاسو کښې دومره پوهه او هوښیار سړی نشته چې خپل استاذ له دغه چټي او فضول کاره منع کړي. شاګرد وویل: مونږ د هغۀ شاګردان یو، د هغۀ په دې کار څنګه اعتراض کولی شو؟ امام

1 . احقاق الحق ج12 ص464 له دې نه علاوه شپږو نورو سترو اهلسنتوعلماو دا حدیث نقل کړي دي.

ورته وویل: که زۀ درته څۀ ووایم نو ور وبه یې رسوې؟ وې ویل: هؤ.

امام ورته وفرمایل: هغۀ ته ورشه او دوستي او ملګرتیا ورسره جوړه کړه او د هغۀ په دې کار کښې ورسره مرسته وکړه. بیا ورته ووایه چې زۀ غواړم له تا یوه پوښتنه وکړم. هغه به تاته اجازت درکړي نو بیا ورته ووایه چې که د قران ویونکي (پیغمبر) تاته راشي، تۀ دا احتمال ورکوې چې هغه تاته ووایي چې دا تا چې څۀ لیکلي د قران مطلب دا نۀ دی بلکې مطلب یې بل څۀ دی. دې به درته ووایي "هؤ بلکل یې امکان شته "کله چې درته په "هو" سره ځواب درکړي نو ورته ووایه تاته له کوم ځایې پته ولګیده چې دا کوم څۀ چې تۀ یې لیکې د قران مطلب همدا دی؟ کیدی شي د قران د ویونکي (پیغمبر) له دې بل څۀ مطلب اخستی وي او تادغه الفاظ او معنې په نورو مطلبونو استعمال کړې وي. یعني د هغۀ مطلب ترې بل څۀ وي او ستا ترې بل څه.

هغه سړی کندي ته ورغی او په هماغه طریقه یې ورسره ملګرتیا او مرسته وکړه. او بیا یې ترې پوښتنه وکړه."کندي" ترې وغوښتل چې پوښتنه تکرار کړي. بیا په چورت او فکر کښې لاړ او وې ویل: ستا پوښتنه امکان لرلې شي یعنې کیدې شي دا تۀ چې څۀ وایې همدا سې وي. بیا یې شاګرد ته قسم ویرکړ چې دا پوښتنه دې له کومه زده کړې ده؟ شاګرد ورته وویل: ممکنه نۀ ده چې تۀ او ستا غوندې نور کسان په

داسې پوښتنې ورسي. رښتیا وو ایه چې له کومې دې زده کړې ده. شاګرد وویل: ابو محمد امام حسن عسکري علیه السلام ماته داسې حکم راکړ. کندي وویل: اوس دې سمه خبره وکړه ځکه چې داسې پوښتنه بې له داسې کورنۍ بل څوک نۀ شي کولي. بیا یې خپل ټول لیکل وسوزول.[1]

## د څو پوښتنو ځوابونه

1: ابو هاشم جعفري وایي: یو سړي له امامه تپوس وکړو چې ولې ښځې ته په وراثت کښې یوه برخه او سړي ته دوه برخې رسي. امام وفرمایل: ځکه چې جهاد او کور خرچه د ښځې په غاړه نۀ ده او د خطائي قتل دیت د سړي په ذمه دی او په ښځې نشته. ابو هاشم وایي ما له ځان سره وویل چې مخکښې ابن ابي العوجا له امام صادق علیه السلام څخه هم دا پوښتنه کړې وه او هغوي هم دا ځواب ورکړی ؤ. امام حسن عسکري علیه السلام ماته مخ کړ او وې فرمایل: هؤ دا د ابن ابي العوجا پوښتنه ده او کله چې پوښتنه یوه وي، زمونږ ځواب هم یو دی. زمونږ اول او اخر په علم او مقام کښې برابر دي. او

1 . مناقب شهر اشوب ج 3 ص 525

د خدايې د رسول(ص) او حضرت علي عليه السلام مقام او فضيلت ځانته ثابت دي.[1]

2: حسن بن ظريف امام حسن عسكري عليه السلام ته وليكل د اميرالمومنين حضرت علي عليه السلام په باب د پيغمبر ددې وينا" من كنت مولاه فهذا علي مولاه" مطلب څۀ دي؟ امام وفرمايل: د پيغمبر مقصد دا ؤ چې حضرت علي عليه السلام د امامت په مقام وګماري چې د امت د اختلاف او تيت و پرک كيدا په وخت د حقو منونكې وي.

3: هروي وايي: د اسباط يو ځوي ماته وويل چې امام حسن عسكري عليه السلام ته يې يو ليک وليكلو او هغه يې د هغوي د دوستانو له اختلافه خبر كړ. او ورځنې يې غوښتل چې د اختلافاتو د ختمولو لپاره يوه معجزه وكړي. امام په ځواب كښې وليكل: په رښتيا سره خدايې پاک له عاقلانو سره خبرې كوي، هيڅوک له نورو پيغمبرانو او د ورستي پيغمبر له هغو دليلونو، نښو نښانو او معجزو زيات دليلونه نشي راوړي خو سره له دې د هغوي قوم وويل چې دی جادوګر او دروغژن دی خو چا چې د هدايت منلو لياقت درلود هدايت يې كړل. كه خدايې غوښتل چې حق څرګند نشي نو پيغمبران به يې نۀ ګمارل. دخدايې پاک پيغمبرانو هم د كمزورۍ او هم د توانمنۍ په حالت كښې حق څرګند كړ او د ضرورت په وخت

1 . اعلام الورى ص 374

يې خبرې او ويناوې وکړې چې د خداې پاک حکم نافذ شي.
خلق څو ډوله دي. يوه ډله پوه او په نيغه لار ده، حقو ته
رسيدلې، په اصولو او فروعو پابنده ده، شک او دوه ګونې
يې په زړۀ کښې نشته، او بل پناه ځاي نۀ لټوي. يوه بله ډله،
حق له اهل حقه نۀ اخلي دا د هغو کسانو په شان دي چې د
سمندر لپاسه روان دي کله چې سمندر ارام وي، دوي هم ارام
وي او کله چې سمندر ناکراره وي، دوي هم مضطربه او بې
قراره شي. دريمه ډله هغه ده چې شيطان پرې واکمن دی او
دحسد په وجه د حقوالو مقابلې ته راپاڅيدلي او په باطلو سره
د حقو دفاع کوي. هغه کسان چې (له سمې لارې کاږۀ شوي) او
يو خوا بل خوا ځي، پرې يې ږده شپون چې کله هم وغواړي
ډير په اسانۍ سره رمه راغونډوي.

محمد بن حسن بن ميمون وايي: امام حسن عسکري عليه
السلام ته مې ليک واستوۀ او د خپلې غريبۍاو ناداري ګيله
مې وکړه. بيا مې له ځان سره وويل: امام صادق عليه السلام
فرمايلي دي: له مونږ سره يو ځايې فقر او ناداري له نورو سره
تر شتمنۍ ښه او له مونږ سره مړينه له نورو سره تر ژوندي
پاتې کيدو غوره ده. امام زما د ليک په ځواب کښې وليکل:
کله چې زمونږ د دوستانو او ليوالو ګناهونه زيات شي نو
خداې يې په غريبۍ او لاس تنګۍ سره له عيبو او ګناهونو
ساتي. او ډير ګناهونه يې بخښي لکه څنګه چې دې له ځان
سره وويل: له مونږ سره غريبۍ له دښمنانو سره تر شته منۍ او

بې نيازۍ غوره ده. څوک چې مونږ ته پناه راوړي مونږ ورته پناه ورکوو، څوک چې له مونږ څخه رڼا او بصيرت وغواړي د هغوي لپاره رڼا يو، څوک چې له مونږ سره مينه ولري مونږ ورسره نژدې کيږو او څوک چې زمونږ له لارې کاږه شي د اور په لوري ځي.[1]

## د امام عليه السلام معجزې

1: ابو هاشم جعفري وايي يوه ورځ امام حسن عسکري عليه السلام ته حاضر شوم، زړه مې غوښتل چې له امامه سپين زر واخلم چې د تبرک لپاره ترې ګوتمه جوړه کړم. له امام سره کښيناستم او په تللو کښې مې دا خبره هيره شوه.امام خپله ګوتمه له ګوتې راوويسته، ماته يې راکړه او وې فرمايل: سپين زر دې وغوښتل، ګوتمه په لاس درغله او له غمې او د جوړولو له پيسو هم بچ شوې، مبارک دې شه. ومې ويل: ګواهي ورکوم چې تهٔ د خدايې ولي او زما امام يې.[2]

2: محمد بن ربيع شيباني وايي: په اهواز کښې مې له يو ثنوي (دوه خدايې منوونکي) سره وليدل له هغهٔ سره مې بحث او مناظره وکړه او د هغهٔ خبرو مې په زړهٔ باندې لږ څهٔ اثر

1 . کشف الغمة ج 3 ص 300

2 . اصول کافي ج 1 ص 512

وکړو. په لاره کښې مې امام حسن عسکري علیه السلام ولید. ماته یې وکتل. په ګوتې سره یې اشاره وکړه او وې فرمایل: "احد احد فوحده" خدا یو دي، یو دي، هغه یو ګڼه (زۀ په دې خبره ډیر حیرانه شوم)[1]

3: محمد بن عیاش وایي: مونږ څو کسانو د امام حسن عسکري علیه السلام د معجزو په باره کښې خبرې کولې. یو ناصبي هم موجود ؤ. هغۀ وویل: زۀ امام ته بې له سیاهۍ او رنګه یو لیک (سپین لیک)لیکم که امام د هغۀ ځواب راکړ نو وبه منم چې په حقه دي. مونږ هم لیکونه ولیکل او ناصبي هم په یو کاغذ باندې په تش قلم سره خپلې خبرې ولیکلې او امام ته مو واستول. امام مونږ ټولو ته ځوابونه ولیکل. د ناصبي په لیک کښې یې د هغۀ او د هغۀ د مور او پلار نوم ولیکلو. ناصبي چې کله خپل ځواب ولید نو له ډیرې حیرانتیا بې هوشه شو او چې په هوش کښې راغي نو حق یې قبول کړو او امام په پیروکارو کښې شامل شو.

## د امام ځینې ځلاندې ویناوې

1: په ژوند کښې منځ لاري او اقتصاد پکار دی. او له اسراف او افراطه ځان وساتئ.

1 . کشف الغة في معرفة الائمة ج 3 ص305

2: د امام د وړوکوالي په دوران کښې یو سړي امام ولید چې ژړل یې او نور ماشومان په لوبو لګیا وو. سړي خیال وکړ چې ګوندې له امام سره د لوبو سامان نشته او له نورو سره شته نو ځکه ژاړي. امام ته یې عرض وکړ: د لوبو سامان درله واخلم؟ امام وفرمایل: اي کم عقله! مونږ د لوبو لپاره نۀ یو پیدا شوي. وې پوښتل: نو د څۀ لپاره پنځول شوي یو؟ وې فرمایل: د علم او عبادت لپاره. وې پوښتل: په څۀ دلیل دا خبره کوې؟ امام وفرمایل: د لویې خدایې له کلامه چې په قران کښې فرمائي: تاسو دا خیال کوئ چې بې مقصده او بې هدفه مو پیدا کړي یئ؟ او مونږ ته به نۀ راګرځئ؟

3: په جدال او چټي بحث سره سړی سپکیږي. او څوک چې ډیرې ټوقې کوي نور ورباندې جرات پیدا کوي.

4: له هر کتونکي سره سلام او په غونډو او محفلونو کښې وروسته او اخر ته کښیناستل په عاجزۍ او تواضع کښې شمېرل کیږي.

5: کله چې زړونه تازه وي نو له علم او حکمته یې ډک کړئ او چې کله خفه او مړاوي شي نو پرې یې ږدئ.

6: د غمژن سړي په مخکښې د خوشحالۍ څرګندول له ادبه لرې خبره ده.

7: خاکساري او تواضع داسې نعمت دي چې څوک ورسره حسد نشي کولی.

8: د ثیرې ښه والي د ظاهر ښکلا ده او د عقل ښهٔ والي د باطن ښکلا ده.

9: د خدايې پـه لـور تلل يوداسې سفر دی چې بې لـه شپو رونولو لاس ته نهٔ راځي.

10: ټولې بدۍ په يو کور کښې غونډې دي چې کُنجي يې دروغ ويل دي.

11: د بخښنې او خرچ لپاره يوه اندازه ده چې لـه هغې تير شي نو اسرف دي.

12: او د احتياط هم يوه اندازه لري چې له هغې تير شي نو ويره شي.

## د امام ځينې ملګري او اصحاب

کـه څـه هم د امـام پـه زمانـه کښـې د محـدوديت او سـاډوبۍ د فضا پـه وجه د امام حسن عسکري عليه السـلام خـاص ملګري ډير نـهٔ دي. خو هغـه لږغونـدې کسـان هم چـې د امـام لـه علمه خړوب شوي دي لـه لويـو الهـي کسـانو او متقيـانو څخـه ګڼل کيږي. زهٔ دلته څو کسانو ته اشاره کوم:

1: احمد بن اسحاق الشعري قمي (رح):

د امام ځانګړې او پـه قم کښې يو نامتو کس ؤ. امام ته بـه يې د قميـانو مسـائل وړل اوځوابونـه بـه يـې ترلاسـه کـول. د امـام

جواد علیه السلام او امام هادي علیه السلام په زمانه کښې هم ؤ او له هغوي هم روایتونه لري.

## 2:ابو هاشم داود بن القاسم الجعفري (رخ):

د بغداد اوسیدونکي د جعفر طیار له کهوله او د خپلې کورنۍ له لویانو څخه ؤ. له امامانو سره یې ستر مقام درلود، امام جواد علیه السلام امام هادي علیه السلام یې لیدلی وو او د وړوکي غیبت په لومړیو کښې د زمانې د امام مهدي (عج) وکیل اوچاروال هم ؤ. ابو هاشم جعفري امامانو ته ډیر نزدې ؤ او د هغوي له ځانګړو دوستانو ګڼل کیدو، له هغو یې ډیر روایتونه نقل کړي او یو کتاب یې هم لیکلی دی.

## 3: عبدالله بن جعفر حمیري (رح):

د قم له بزرګانو اود امام حسن عسکري علیه السلام په پاکو ملګرو کښې شامل ؤ. ډیر کتابونه یې لیکلي چې "قرب الاسناد" کتاب ته یې عالمانو او فقیهانو ډیره پاملرنه کړې ده. دې د هجرت په290 کال کوفې ته لاړ اوهلته به تړې خلقو حدیثونه زده کول.

## 4: ابو عمرو عثمان بن سعید عمري(رح):

په وړوکي یا لنډ غیبت کښې د زمانې د امام لومړې نائب ؤ. یو باوري او لویې کس او د امام هادي علیه السلام، امام حسن عسکري علیه السلام او امام مهدي(عج) ملګري او

وکیل ؤ. له یوولس کلنۍ د امام هادي علیه السلام په وړاندې وروزل شو او د ورستیو دریو امامانو او د خلقو ترمینځ به یې د واسطې کار کوؤ. او کله کله به یې کرامتونه هم ښودل.

## شهادت

د بني عباسو خلیفه ګانو او د هغوي چاروالو اوریدلي وو چې امامان دولس دي او دولسم به یې له غیبته او بیا څرګندوې وروسته د ظالمانو ټغر ټول کړي، باطل حکومتونه به ختم کړي او نړۍ به له عدل و انصاف ډکه کړي. د امام هادي علیه السلام د دوران په پایې کښې خلیفه ګان په دې خبره ډیر اندیښمن وو او امام هادي علیه السلام به یې ډیر سخت څارۀ او غوښتل یې چې د امام ځوې ونۀ شي. حتي امام یې څو ځله بندي کړ او بالاخره چې کله امام ته د خلقو تګ راتګ ډیر زیات شو او د معتمد عباسي د صبر جام ډک شو نو د امام د شهیدولو فیصله یې وکړه امام ته یې په پټه زهر ورکړل او هجرت د 260 کال د ربیع الاول په اتمه نیټه یې شهید کړ.

په ټولنه کښې د امام نفوذ او په تیره بیا د علویانو د بلوا کولو ویرې عباسي معتمد ډیر وویرولو چې داسې نۀ وي د هغۀ لخوا امام ته د زهر ورکولو خبره څرګنده شي نو په هرې ممکنې طریقې سره یې هاند وکړ چې دا جرم پټ کړي.

ابن صباغ مالکي په " فصول المهمه" کتاب کښې د عباسي دربار د یو درباري عبدالله بن خاقان له خلې لیکي: د امام ابو

محمد حسن بن علي عسكري عليه السلام د شهادت په وخت د عباسي خليفه حالت بدل شو دومره چې مونږ يې حيرانه کړو او دا خيال مو هم نۀ کوۀ چې د وخت د خليفه چې دومره قدرت او طاقت په لاس کښې لري، حالت دومره بدل شي. کله چې امام ناروغ شو نو خليفه د خپل دربار پنځۀ خاص فقيهان د امام کور ته وليږل. او حکم يې ورکړ چې د ټولو پيښو راپور دۀ ته ورکړي. او قاضي بن بختيار ته يې حکم ورکړ چې لس باوري کسان د امام کور ته وليږي. او د امام د حالت خبره دۀ ته ورکوي. دوه درې ورځې پس خليفه ته خبر ورکړې شو چې د امام حالت ډير بد شوې دی او د رغيدو امکان يې کم دی. خليفه حکم ورکړ چې شپه او ورځې دې د هغوي حفاظت او خدمت وکړې شي. تر دې چې څو ورځې ورسته امام له دې فاني دنيا سترګې پټې کړې. کله چې د امام د شهادت خبر په سامرا کښې خپور شو نو ټول بازارونه او دکانونه بند شول او په سامرا کښې ژړا انګوله شوه.بني هاشمو، درباريانو، دلښکر قوماندانانو، قاضيانو، شاعرانو، فقيهانو او حتی ټولو پرګنو د امام په جنازه کښې ګډون وکړ. او په سامرا کښې د قيامت منظره وه. کله چې جنازه کښې خاورو ته سپارلو ته تياره شوه. نو خليفه خپل ورور عيسی بن متوکل راوستولو چې د جنازې مونځ وکړي. کله يې چې جنازه د مانځه لپاره په زمکه کيښوده نو عيسي ورنيږدې شو د امام له مخ يې کفن هسک کړ او علويانو، عباسيانو، قاضيانو،

ليکوالــو او شــاهدانو تــه يــې وښــودلو او وې ويــل دا ابــو محمدعسکری عليه السلام دی چې په خپل مرګ وفات شوې دي. او د خليفه پلانکي درباريان پرې شاهدان وو.

د امام د وفات نيټه د هجرت 260 کال د ربيع الاول اتمه د جمعې ورځ ده. او هغه حضرت په هغه کوټه کښې چې د پلار قبر يې هم پکښې ؤ. خاورو ته وسپارل شو. نو له دغو خبرو ښکاره کېږي چې پــه ټولنــه کښــې د امــام څــه پوزيشــن ؤ. او حکومت له دوي ولې انديښنه لرله. او دا چې خليفه د امام د زهرژنولو له ښکاره کيدو ويرده او په ټللو پلانونو سره يې کوشش کوؤ چې د امام شهادت يوه طبيعي پيښه وښائي. چې ګوندې امام په خپل مرګ وفات شوی دی. عباسي معتمد د امام حسن عسکري عليه السلام له شهادته وروسته ظاهرا د امام د مور او ورور جعفر تر مينځ د امام د ميراث په ويشلو سره کوشش وکړ چې د دوي منونکي د ورستي امام له وجوده نهيلي شي. خو په پټه يې خپلو کار کوونکو ته حکم ورکړو چې هر ځايې لټ په لټ کړي او کۀ د امام ځوې مو وموند نو له منځه يې يوسي.

خو د زمانې امام يعني دولسم امام يې پيدا نۀ کړې شو. او خدايې پاک هغه د دښمنانو له شره خوندي کړ او کۀ څۀ هم امام حجه ابن الحسن مهدي (عج) د ظالمانو له شره د بچ کيدو لپاره له خلقو سره څرګندې اړيکې او رابطه نۀ لرله او د خدايې په حکم پټ او غائب شو خو د امام حسن عسکري

عليه السلام ځانګړي او خاص ملګري چې امام مهدي(عج) يې په وړوکوالي کښې ليدلي ؤ، د امام په شته والي ډاډا من ؤ او د امام حسن عسکري عليه السلام د وفات په وخت هم چې کله جعفر غوښتل چې په امام د جنازې مونځ وکړي امام مهدي(عج) راڅرګند شو او د خپل پلار په جنازې يې مونځ وکړو. او د لنډ غيبت په ټوله موده کښې هم د امام منوونکوله دوي سره د خاصو نائبانو په ذريعه ارتباط درلود او امام به ددغو نائبانو په ذريعه پوښتنو ته ځوابونه ورکول او ددغه نائبانو په لاس يې ډيرې معجزې او کراماتونه وکړل چې د دوستانو او منونکو اطمينان او ډاډ پرې ورځ په روځ زيات شو.

* * *